بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

د مولانا سعید افغاني د سولې او تفاهم،نشراتي ارګان

www.said-afghani.org

آزاده، تولنیزه ،علمي ، فرهنګي و نشراتي ارګان



Dr.Said Afghani

د مولانا سعيد افغاني : آزاده ، ټولنيزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!



# سميع الدين « افغاني »

د نشرنيټه : 22 سپتامبر 2026 ميلادی

# بنجاره ماما!

موري بنجاره مـــاما راغلی دی
نورشيان يې ډيردي داپايزيب يې ځومره ښکلی دی
موري بنجاره مـاما راغلی دی
***

موري پيسې را که چې پايزيب مې ډيرخوښيږي
رنګ رنګ سيـــخکونه په اوربـــل مې هوسيږي
عطر شام پاريـــس مې په د مـــاغ ډير ښه لګيږي
نقدی پيسې نــه وی ماما پور پــــه ځان منلی دی
موري بنجاره مــامـــا راغلی دی
***

اخـــلم دنداسه چــــې دنداسه مې ډير خوښيږي
سرې شونډې چې ګرځم نو اشنامې خوشحاليږي
توري توري سترګـــې پـــه کجلو ښه ښکاريږي
سرو زروچـــارګل ماما پـه برجب کې ساتلی دی
موري بنجاره مــامـــا راغلی دی
***

ځان چې مې سينګارکړه بيانوځـمه د ګدر په لور
موري دهـــمزولــــوسره نــــن دمــــازديګرپه لور
ډيربـــــه شم خوشحاله چــې ديارشم دنظر په لور
اچوم ټکريـــــې چې افغاني کلتورمو ښکلی دی
موري بنجاره مــامـــا راغلي دی
***

سميع الدين « افغاني »




مأخَذ: د بنجاره ماما شعر؛ شين خالی « ناول » ، « ۴ ـ ۵ » مخ ، د « ۲۰۰۹ ميلادی» کال چاپ.

يادونه: بنجاره ماما شعر؛ د تکړه اوخوږ ژبي هنرمند محترم طاهر « شباب » پـه اواز کې کمپوز او کليپ شويدې.

www.said-afghani.org — بازګشت به صفحه اصلی